# د البیروني د کتابښود سریزه

کله چي ایدورډ سخاو د البیروني آثارالباقیه او تحقیق ماللهند چاپ او ترجمه کړل، نو د خلکو دلچسپي د منځنیو پېړیو د دغه لوی عالم له کارو او فکرو سره ډېره سوه او د ده تألیفونه د عالمانو او مؤسسو له خوا وڅېړل سوه او هم خلکو ورو ورو وپېژندل.

ابوریحان محمد البیروني خوارزمي د احمد زوی د (۳٦۲ هجري) کال د لوی اختر د میاشتي په درېیمه (٤ سپټمبر ۹۷۳ م) د خوارزم د کث[1] په یوه سیمه (اوسنۍ خېوه) کي وزېږېدی. دی له لومړي سره په منجم او ریاضي پوهاند و، خو عموماً یې په ګردو علمونو کي لاس لاره، او له کوچنیوالي څخه په څېړنه او پلټنه بوخت و، چي د ده لومړی لوی کتاب آثارالباقیه عن القرون الخالیه د عمر پر ۲۷ کال تألیف سوی دی او په همدغو وختو کي خوارزم شاه دی روزه او پاله.

خو کله چي دغه خوارزمشاهي کورنۍ ورانه سوه، نو بیروني ناچاره سو چي خپل وطن پرېږدي، او د یوه او بل حکمران پالنه ومني. څو چي په پای کي سلطان محمود د سبکتګین زوی دی ونیوی او غزني ته یې بوت. بیروني له غزني څخه هندوستان ته ولاړ، او تر لسو کالو پوري هلته و، بیا نو بیرته غزني ته راغی او پاته عمر یې په دغه ښار کي په تألیف او لیکنه تېر کی، څو چي د اتیا کالو په پاخه عمر د (۱۰۵۰م) کال په شاوخوا کي همدلې مړ سو.

بیروني چي د منځنیو پېړیو یو لوی یاینس پوهاند و، د نجومي څېړنو او کتنو سره یې ډېره مینه درلوده، او د ده ګرده پوهنه د قدیم یونان او د هند له سرچینو څخه رابهېدلې او د تېرو مسلمان منجمانو پر څېړنو ولاړه وه، چي د ده په شهکار(۱) القانون المسعودي کیه سره راټوله سوې ده.

بیروني د ډېرو تألیفاتو خاوند او تکړه لیکوال و، د ده له کتابونو څخه اته ویشت داسي تالیفونه دي چي په هند اړه لري او په دې رساله کي د ستوري (*) په نخښه ښودل سوي دي.

دی په رشتیا هم یو ساینس پوهاند و، چي علمي سترګي یې د دیني او اسلامي اعمالو سره یو ځای درلودې، نو ځکه ده وچ مذهبي یا نژادي تعصب نه درلود، د غزني د مسجد له پاره یې یو داسي تقویم (۲) جوړ کی چي پر رومن کلنډر بنا سوی و، مګر د مسجد امام دغه تقویم له دې جهته نه ومانه چي اصل یې یو غیر اسلامي تقویم و.

که څه هم د ده مورنۍ ژبه خوارزمي وه، خو په عربي، یوناني، دري، فارسي، سنسکریت او څو نورو ژبو هم پوهېدی، د ده کتاب ا لهند د هندوستان د فلسفې او فرهنګ او دودونو او نورو خصوصیاتو د څرګندولو له پاره د عربي ژبي خورا معتبر او د باور وړ کتاب ګڼل کېږي، چي په عربي کي بل ساری نه لري.

د دې کتاب په لیکني سره البیروني د عربي ژبي ویونکو ته یو لوی خدمت وکی، ځکه چي تر ده دمخه بل چا د هغه وخت هند، په دغه ډول نه و ښوولی.

البیروني خپل عمر د یوه طالب علم په توګه تېر کی، او کله یې نه درلوده، خو په رشتیا د علم او تألیف زوم و، هیڅکله یې سره له کتابه نه پورته کاوه او د کاله به تش دوه واره په اخترونو کي راوتی، چي ځانته څه توښه

[1] بیرون د خراسان د نسا په سیمه کي یو ځگای و، چي بیروني ورته منسوب دی، د کث شګار ته د ده نسبت نه دی سوی. (ح)

او ځوري واچوي. د دهګرده عمر تر وروستنۍ سوګلۍ پوري په زده کړه او د نوو نظرياتو په څېړنه او راايستنه کي تېر سو.

پر علم باندي د البيروني لوی حق دا و چي ده زاړه  او پخواني معلومات سره راټول کړه، او هغه يې د خپلو اصلي افکارو او کتنو او څېړنو سره ترجمه کړل. نو ځکه د پوهني په تاريخ کي د ده مقام ټاکلی دی، او هغه خدمت چي ده علم ته کړی دی، دی د منځنيو او اوسنيو پېړيو د لويو پوهانو په ډله کي دروي، لکه : پتوليمي، نيوټن، اينشټاين.

زه هيله لرم چي دغه کتاب ښود (ببلوګرافي) [٣] به د البيروني د ژوندانه آينده څېړونو ته ګټه وره وي، څېړونکي او تاريخ ليکونکي به د البيروني د ښې پېژندني له پاره ګټه ځني واخلي.

د البيروني تألیفات چي په دې کتاب ښود (ببلوګرافي) يا عمومي فهرست کي راغلي دي، له هغه فهرسته اخيستل کيږي چي په (٤٢٧ هـ ١٠٣٦ م) پخپله ده د سلطان مسعود په پاچهي کي په هغه کتاب کي کښلی دی چي نوم يې : "رساله فی فهرست کتب محمد بن زکريا الرازي" دی او فقط يوه خطي نسخه يې د ليډن په کتابخانه کي سته، چي پاول کراوس په (١٩٣٦ م) له پاريسه په (٥١) مخه کي خپره کړېده، په دې رساله کي البيروني خپل (١١٤) کتابونه په (١٣) برخو کي ښيي.

په دغه رساله کي علاوه پر هغو کتابو چي ده پخپله کښلي دي د (٢٥) داسي کتابو نومونه هم اخلي، چي د ده په نامه بل چا کښلي دي.

له دغو څخه (١٢) هغه دي چي ابو نصر منصور بن علي بن عراق کښلي وو او دوولس نور هم د ابو سهل عيسی بن يحيی المسيحي ليکني دي. يو کتاب هم د ابو علي الحسين بن علي الجيلي دی. خو البيروني دغه (٢٥) کتابونه خپل نه ګڼي، بلکي دوستانو او شاګردانو د سوغات په توګه ده ته وړاندي کړي دي، چي د ده د علمي خدمتونو قدر په وسي.

البيروني وايي : چي دغه (٢٥) کتابونه ګرده، ده پخپله په غور کتلي او څېړلي دي، نو ځکه يې په فهرست کي د کار د بشپړوني له پاره داخل کړي دي، چي په دې رساله کي له نمبر (١١٤) څخه تر (١٣٣) پوري هغسي راغلي دي.

کله چي په (١٨٧٨م) کي سخاو د آثار الباقيه نسخه چاپ کړه، د دغه کتاب په مقدمه کي د البيروني د دغه رسالې هغه برخه راواخيسته چي د البيروني تألیفات پکښې کښل سوي دي (د ليډن له خطي نسخې څخه) پروفيسر سخاو وايي : د البيروني د کومو کتابو نومونه چي حاجي خليفه راوړي دي، په دې رساله کي پخپله البيروني نه دي ذکر کړي، دی د دې رسالې تر ليکلو وروسته لږ تر لږه نور (١٤) کاله لا ژوندی و او تر مرګ دمخه يې څو نور علمي کتابونه، د خپلو نهايي تحقيقاتو په رڼا کي وکښل، چي د ده د نورو تألیفاتو سره لږ څه تفاوت لري (په دغو کي کتاب الجماهر او کتاب الصيدله شامل دي).

سخاو په بله برخه کي د بيروني هغه کتابونه هم يادوي چي نسخې يې د اروپا په کتابخانو کي سته، مګر دوه داسي کتابونه هم پېژني چي نه د البيروني په دغه فهرست کي سته او نه په کشف الظنون کي.

د سخاو تر مطالعاتو وروسته د البيروني د تألیفاتو پلټنه او ګروېږنه سوتړ، او ی، ويډيمن پسي اووده کړه او په (١٩٢١م) يې د البيروني د فهرست يوه جرمني ترجمه د خپلو تشريحاتو      سره خپره کړه چي وروسته پروفيسر بيولوټ د البيروني بشپړه ببلوګرافي تياره کړه (چي د دغي رسالې بنياد هم دغه د بيولوټ کار دی) چي په (م آی ډی او) ٢ ص ١٦١ تر ٢٥٦ (١٩٥٥م) او سمونه او بشپړونه يې د هم دغه کتاب په ٣ ټو ص ٣٩١ تر ٣٩٦ (١٩٥٦م) کي خپره سوې ده او له (١٩٥٥م) راپدېخوا ډېري مقالې په مختلفو ژبو خپرې سوې چي د وخته سره سمه يوه بشپړه

ببلوګرافي غواړي.

د البيروني په فهرست کي ګرده (۱۳۸) کتابونه ذکر سوي دي خو (۲۹) نور کتابونه يې هم دغو لوړو يادو سوو مستشرقانو راوړي دي، چي په دغه رساله کي له نمبر (۱۳۹ تر ۱٦۷) پوري راغلي دي، او ګرده د ځينو نورو اضافي کتابو سره (۱۸۳) کيږي.

په دې رساله کي څلور نور کتابونه نمبر (۱۵۹ _ ۱٤۷ _ ۱۵۰ _ ۱٦۷) اضافه سوي دي چي شك پکښې سته. نمبر (۱۳۹) هم داسي کتاب دی چي د حاجي خليفه په سند يې د فهرست سره تطبيقوو. د سخاو او د هـ . سوټر او ی. ويډيمن فهرستونه هم اورده دي، ځکه چي دوی هغه کتابونه هم پخپله فهرستونو کي اخيستي دي چي په کتاب الاستيعاب او د ياقوت په معجم الادباء (ارشاد الاريب) کي ياد سوي دي. مګر دغه کتابونه چي ياقوت يې راوړي، ښه نه دي څرګند سوي، فقط دوه يې پخپله البيروني په آثارالباقيه او فهرست کي يادوي چي موږ يې په نمبر (۱٤۷ _ ۱٦۸ _ ۱۷۳) کي ذکر کړي دي.

د البيروني هغه کتابونه چي د تحسين وړ او ښکاره وو، د بروکلمان په وخت کي وپلټل سوه، مګر وروسته څلور نور نايابي نسخې پيدا سوې چي د دې رسالې په نمبر (۱٦۹ _ ۱۷۰ _ ۱۷۱ _ ۱۷۲) کي راغلي دي.

نمبر (۱۷٤) کتاب بيروني له هندي هغه کتابه ترجمه کی چي په کتاب

ا لهند کې يادوي، مګر په فهرست کي نسته. نمبر (۱۷۵ _ ۱۷٦ _ ۱۷۷) درې هغه کتابونه دي چي د بيروني په لارښوونه په سنسکريت ترجمه سوي دي. لکه په متن کي چي يادونه سوېده، نمبر (۱۷۸ _ ۱۷۹) هغه کتابونه دي چي ابونصر منصور بن علي بن عراق بيروني ته وړاندي کړي دي او ښايي چي د بيروني په نامه تيار سوي وي، د فضايي مثلثاتو د تهيوری دوې رسالې هم د دغه ابو نصر دي چي د ليډن د قلمي نسخې څخه پېژندل سوي دي. د بيروني يو کتاب نمبر (۱۸۰) هغه دی چي سجزي ته يې وړاندي کړی دی.

نمبر (۱۸۱ _ ۱۸۲ _ ۱۸۳) نوي موندل سوي کتابونه دي چي پخوا مستشرقانو نه وو ذکر کړي. نمبر (۱۸۱) کتاب صرف له هغي نسخې څخه وپېژانده سو چي د ګجرات په احمدآباد کي پيدا سوه، او له سنسکريت څخه په عربي ترجمه سوېده چي مؤلف يې د هند مشهور منجم بنارسي ويجايه ننده دی او ترجمه يې هم پخپله بيروني کړېده. نمبر (۱۸۲) د علم مرايا او مناظر کتاب دی چي غلام حسين جونپوري پخپل زيج بهادر درخاني کي ياد کړی دی. نمبر (۱۸۳) هم سيد حسن برني پخپل کتاب البيروني کي يادوي.په دې ډول د بيروني ټولن تأليفونه چي په دې رساله کي ياد سوي دي ګرده (۱۸۳) دي.

د دې ببلوګرافي جوړونه :

هر کتاب له (۱) تر (۱۸۳) پوري يو نمبر لري [٤] لومړی د کتاب نوم او بيا يې انګرېزي ترجمه ليکو [٥] چي دغه په لېنديو کي نيوله کيږي (...) وروسته تر هغه ځايه چي معلومات سته د دغه کتاب يوه لنډه پېژندنه راغلې ده او که يې خطي نسخه وي، هغه هم ښووله کيږي، چاپونه ترجمې که يې معلومي وي هغه هم کښلي سوي دي.

بيا نو د هر کتاب په باب کي چي ځيني مقالې خپرې سوي دي هغه هم ښيو.

عنوانونه :

د کتابو نومونه له (۱ تر ۱۳۸) پوري اول هغه راز کښل کيږي چي پ . کراوس د البيروني په فهرست کي (د ليډن له نسخې څخه) چاپ کړي دي. بيا که يې په خطي نسخو يا د حاجي خليفه په کشف الظنون کي نوم بل راز کښل سوی وي، يا يې ياقوت بل نو اخيستی وي نو دغه مطلبونه هم يادوو.

له نمبر (۱۳۹ تر ۱۸۳) پوري هغه نومونه راغلي دي چي په يوه خطي نسخه کي وو، يا پخپله البيروني په آثارالباقيه يا کتاب ا لهند يا په کتاب الاستيعاب کي راوړي دي، يا دا چي ياقوت يا حاجي خليفه پخپلو کتابونو کي

ضبط کړي دي.

دا نومونه مو په لاتيني حروفو ځکه وکښل، چي عربي ناپوهېدونکي خلك په وپوهيږي [٦].

تشريحات :

د کوموکتابو په اول کي که (ف) وه، ذکر يې د البيروني له لوړ ذکر سوي فهرست څخه را اخيست سوی دی اوکه (س و) و، نو دغه شرحه د هـ. سوتړ او ی. ويډيمن څخه ده، چي دوی د البيروني پر تألیفونو باندي کښلي ده تر دغه وروسته که په نورو منابعو کي د هغه کتاب په باب کي څه مونده سي کښل کيږي.

خطي نسخې :

هغه کتابونه چي خطي نسخې يې معلومي او موجودي دي، په دې رساله کي ښوول سوي دي، له (۱۸۳) کتابو څخه (٤١) داسي کتابونه يادېږي چي خطي نسخې يې په کتابخانو کي سته. په دې څېړنه کي که د کتابخانو کتلاګ خپور سوی وي هغه هم ښيو.

چاپونه :

له دغو (٤١) خطي نسخو څخه چي په کتابخانو کي سته (۲۳) کتابونه داسي دي چي ګرده چاپ سوي دي، خو پنځه داسي هم سته چي يوه يوه برخه يې چاپ سوې ده. د دغو چاپونو او چاپوونکو بيان د کتابونو د مخو او ټوکو د شمېر او تاريخ سره دلته کښل سوی دی.

ترجمې :

د البيروني (۱۲) کتابونه ګرده په نورو ژبو ترجمه سوي دي خو اوه داسي کتابونه هم سته چي يوه يوه برخه يې ترجمه سوې ده.

دغه ترجمه له عربي متنو څخه په جرمني، انګرېزي، روسي، فارسي، اردو، فرانسوي او ترکي سوېده.

مقالې :

د بيروني دېرش کتابونه داسي دي چي پر هغو باندي په کتابو او مجلو کي ليکني کښلي سوي دي. دغه تبصرې او مقالې داسي هم دي چي موږ پخپله نه دي موندلي.

خو د نورو مؤلفانو او څېړونکو په مقالو يا کتابو کي يې ذکر راغلی دی. په دې رساله کي تر (۵۰) زياتي تبصرې د هغو د عنوانو سره ښوولي کيږي او د مجلاتو د نومونو د مخففاتو شرحه به جلا راسي.

د دې رسالې فهرستونه :

د دې کتابګوټي په پای کي ځني ضروري فهرستونه هم زياتيږي چي اول د کتابو د نومو يو مرتب الفبايي فهرست دی. بيا نو د البيروني د تألیفاتو موضوعات دي، وروسته بيا تر هغه موضوع لاندي د مربوط کتاب نمبر ښوول کيږي. د منابعو او مأخذونو جلا فهرست سته، او بيا نو د هند په کتابخانو کي د بېروني د مؤلفاتو د خطي نسخو بېل فهرست هم لرو.

موضوعونه او ماخذونه :

بيروني د خپلو آثارو موضوعونه په دغه فهرست کي پخپله هم ټاکلي دي (چي په دې رساله کي د جلا جلا عنوان په ډول ليدل کيږي) اوګرده د ده په حساب شپاړس عنوانونه دي. مګر د ده دغه وېشنه ډېره اصولي نه ده او پخپله فقط (۱۳۸) کتابونه له (۱۸۳) څخه ښيي خو د دغه کتابو له نومونو څخه د دوی موضوع ښه نه څرګندېږي. ځيني داسي کتابونه هم سته چي يو خاص موضوع نه لري، او ډېر شيان پکښي ځای سوي دي، لکه آثارالباقيه اوکتاب ا لهند او قانون مسعودي. نو ځکه دغه رساله په داسي ډول ترتيب سوه چي د بيروني د ژوند هغه معلومات په زيات سي چي په معياري تألیفاتو کي راغلي دي، لکه:

م . میير هاف د بيروني پر ژوندانه باندي عربي، فارسي او اروپايي تاْليفونه پخپله هغه ليك كي ذكر كوي چي نوم يې "د عربو د درمل جوړوني معلومات" دی او د مصر د مؤسسيې په مجله كي خپاره سوي دي (۲۲ ص ۱۳۳ تر ۱۳۹) ۱۹٤۰ م. د ياقوت ارشاد الاريب (٦ ص ۳۰۸ تر ۳۲٤ _ ليډن ۱۹۱۳ م) چي دغه معلومات ی . ويډيمن او ج. هيل په جرمني د طب او طبيعي پوهنو په مجله كي خپاره كړي دي ۱۱ نمبر ٤.

علي بن زيدالبيهقي : تتمه صوان الحكمه ص ٦۲ تر ٦٤ (لاهور ۱۹۳٥م). سيوطي : بغيه الوعاه ص ۲۰ (د مصر چاپ ۱۳۳٦ هـ) چي دغه معلومات ی.ويډيمن په جرمني په (س پ م س ی) بيټريګ ۲۸ ص ۱۱۷ تر ۱۱۸ پوري ترجمه او خپاره كړه.

ابن ابی اصيبعه : عيون الانباء ۲ ص ۲۰.

ی . سخاو : د آثار الباقيه جرمني مقدمه (لندن ۱۸۷۹ م) هم د ده د كتاب ا لهند انګرېزي مقدمه (لنډن ۱۸۸۸م).

س. بروكلمان : د عربي ادبياتو تاريخ ۱ ص ٤٧٥ (۱۸۹۸م) د دغه كتاب تكمله ۱ ص ۸۷۰ (ليډن ۱۹۳۷م).

د اسلام په انسكلوپيډيا كي د البيروني كلمه. لومړی ټوك قديم چاپ. د دغه كتاب نوی چاپ : پر البيروني د باليټ مقاله ۱ ص ۱۲۳٦.

هـ.سوټر : د عربو رياضي پوهان او اسمان پوهان ص ۹۸ تر ۱۰۰ د ليپزيګ چاپ ۱۹۱۰ م.

دغسي هم دغه سوټر د ی.ويډيمن په ملګري د البيروني پر تاْليفاتو باندي په (س پ م س ی) بيټريګ ٥۲، ٥۳ ص ٥٥ ٩٦ (۱۹۲۱م) كي څېړنه كړېده.

جارج سارټن : د علم د تاريخ مدخل ۱ ص ٧٠٧ (باليټيمور ۱۹۲٧م).

ل. ليكيرس : د عربو د طب تاريخ ۲ ص ٧٥ تر ۸٦ او ۲۱٥ تر ۲۱٧ (پاريس ۱۸٧٦م).

كاره دواخ : د اسلام مفكران ۲ ص ٧٥ ۸٧ او ۲۱٥ تر ۲۱٧.

هـ.ريټر : د البيروني تاْليفونه : اورينټليا ۱ ص ٧٤ تر ٧۸ (استانبول ۱۹۳۳م).

پ. كراوس : د البيروني رساله او نور (پاريس ۱۹۳٦م).

احمدزكي وليدي توغان : نوی جغرافي او نژادي ملعومات. د جرمني جغرافي مجموعه ۳٦۳ (۱۹۳٤م).

ر. رمزي رايټ : د ابوريحان البيروني دكتاب التفهيم فی صناعه التنجيم مقدمه (لنډن ۱۹۳٤م).

ضياء الدين احمد او كرينكو : اسلامك كلچر ٦، جولائی، اكتوبر ۱۹۳۲م.

س. بروكلمان : د عربي ادبياتو تاريخ ۱ ص ٦۲٦ تر ٦۲٧ (دوهم چاپ).

ف. تچنر : ز د م ګ ٧٧ ص ۳۱ (۱۹۲٧م).

م. كراوسي : البيروني او اېرانۍ څېړني. دير اسلام ۲٦ (۱۹٤۲م) ۱/۱٥.

ج. كورتيوس : د البيروني ژوندون. انډو ايرانيكا نمبر ۱ (۱۹٥۲ كلكته).

نفيس احمد : د مسلمانانو خدمت جغرافيې ته. ص ۲۹، ۳۲، ۸۱، ۸۳، ۱٥٥ (لاهور ۱۹٤٧م).

د. بلاچر : لوی البيروني. د عربو لوی جغرافيا پوهان په منځنيو پېړيو كي (پاريس ۱۹۳۲م).

ايليوټ او ډاوسن : د هندوستان تاريخ ۲ ص ۱.

ريناوډ : د ابوالفدا جغرافيه (ترجمه ج ۱ _ ۱۹٤۸م).

س. م علي : البيروني د عربو پر جغرافيه. د لوړ مضمون انګرېزي ترجمه، د علي ګړ د اسلامي تحقيقاتو د مؤسسې خپرونه ص ۸۱ تر ۸٧ (۱۹٦۰م).

ی. س كنيډي : پر البيروني باندي يوه مقاله د علمي بيوګرافۍ په ډكشنري كي. دوهم ټوك، نيويارك ۱۹٧۰م.

زکي وليدي توغان : په اسلامي دايره المعارف کي د ده مقاله پر البيروني ۲ ص ٦۳٥ تر ٦۳۹ (۱۹٤٤م).
عربي ماخذونه :
خيرالدين الزرکلي : الاعلام ٦ ص ۲۰٥ تر ۲۹٦ (۱۹٥٥م قاهره).
عمر رضا کحاله : معجم المؤلفين ٥ ص ۲٤۱ تر ۲٤۲ (۱۹٥۹ م قاهره).
اسماعيل باشا البغدادي : په هديه العارفين کي البيروني (۱۹٥۱ م استانبول).
ياقوت حموي : معجم الادباء ۱۷ ص ۱۸۰ تر ۱۹۰ (قاهره).
عبدالرحمن الحلمي : جهود العلماء المسلمين فی ميدان العلوم ۳.
مجله الازهر فی قاهره : ۲٤/۷۹ (۱۹٥۲م).
نبيه امين فارس : عبقريه العرب العلميه فی تراثناالقديم ۳.
العلوم : البيروني ۱/۲ ص ۳٥ (۱۹٥٦ بيروت).
م. يحيی هاشمي : نظريات الاقتصاد عندالبيروني (رااد) ۱٥ ص ٤٦٥ تر ٤٦٥ (۱۹۳٥م).
دري ماخذونه :
محمد قدير تره کي او سرورګويا : نامعلوم بيروني. کابل ٥ ص ۹۱ تر ۹٦ (۱۳۱٤ ش).
عبدالحی حبيبي : يك صفحهٔ از حيات بيروني. آريانا ٦ ص ۲۹ تر ۳۰ (۱۳۲٦ش) [۷].
علي اکبر دهخدا : شرح حال نابغهٔ شهير ابوريحان البيروني، مجلهٔ آموزش و پرورش ۱٥ ص ۱ تر ۸۱ (۱۳۲٤ ش تهران).
سعيد نفيسي : بوريحان بيروني. پيام نو ٤ ص ۲۲ تر ۲٦ (۱۳۲۷ ش تهران).
اردو ماخذونه :
سيد حسن برنی : البيروني (ژوند او مؤلفات) د علي ګړ دوهم چاپ (۱۹۲۷ م).
عبدالله خان : البيروني. مشير عالم. لومړی خپرکی.
عبدالسلام ندوی : البيروني. د البيروني يادنامه، کلکته (۱۰۱٥م).
محمد عنايت الله : تذکرهٔ ابوريحان. علي ګړهـ ۱۸۹۳م.
لطيف ملك : ابوريحان البيروني. لاهور (۱۹٦٥م).
دغسي هم دغه مقالې وګورئ : د البيروني په يادنامه کي، (کلکته ۱۹٥۱م).
د بيروني يادنامه په روسي د س. پ ټولستوف مقاله : بيروني او د ده ژوند (ص ۳ _ ۲۹).
سيد حسن برنی : ابن سينا او البيروني، د دوی مشابهتونه او مخالفتونه، د ابن سينا يادنامه، (کلکته ۱۹٥٦ م ص ۳ تر ۱٤) [۸].

لمن لیکونه :

١. Magnum Opus
٢. Calender
٣. Bibliography
٤. د رسالې لیکوال یو نمبر هر کتاب ته ورکړی دی، مګر ما لومړی مسلسل عام نمبر ورکړی دی او وروسته یو بل نمبر هم سته، چې د کتاب په موضوع اړه لري (حبیبي).
٥. دغه د نومو انګرېزي ترجمې چې دلته یې ضرورت نسته حذف سوې، او کله چې ضرورته ولیده سو په پښتو سوې (حبیبي).
٦. دلته مو پخپله مروج پښتو رسم الخط وکښل (حبیبي).
٧. دغسي هم وګورئ د کابل په آریانا مجله کي : کتاب الصیدله بیروني جلد ٢٠ شماره ١ _ ٢.
عبدالحی حبیبي : بیرون و البیروني. آریانا ج ٤ شماره ٤.
" ": چګونه علما را تقدیر میکردند؟ آریانا ج ٦ شماره ١١.
" ": البیروني او افغانستان آریانا ج ٢٥ شماره ٥ _ ٦ (حبیبي).
٨. د البیروني کتابښود، ٣_١٦ مخونه، ١٣٥٢ ش کال، د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسه، کابل.